Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان

international center for
TRANSITIONAL
JUSTICE

موضوع: پلټنې او انتقالي عدالت

# د انتقالي عدالت بل ګام څه شی دی؟

د لاهه نړیوالې جزایي محکمې هڅه کړېده ترڅو د بشر له حقونو څخه د ټولیز سرغړاوي په وړاندې د ځواب په توګه د مجرمینو په قضایي تعقیب سره ارزښتمن ګامونه پورته کړي. خو دا محکمه د جرمونو د څېړنې په اړه تل له ستونزو سره مخامخ وه. چې له هغې ډلې څخه کله چې نوموړې محکمې د انتقالي عدالت بهیر پرمخ روان کړی و د جګړې قربانیان له محکمې او د هغې د راڅرخېدو له ټکي څخه بې خبره وو. او له بلې خوا ملي مشرانو هم له دې بنسټ سره مخالفت کاوه. پر دې بنسټ هغه پوښتنه چې په ذهن کې را ولاړیږي داده چې: د انتقالي عدالت راتلونکې به څه وي؟

## ټولیزحالت او ستونزو ته کتنه

د لاهه نړیوالې جزایي محکمې د ۲۰۰۸ کال په وروستیو کې پنځه تورن کسان ونیول. له دې څلورو کسانو څخه یو د کانګو د ولسواک جمهوریت د پخواني ولسمشر مرستیال و. پر نوموړي باندې د مرکزي افریقا په جمهوریت کې د نړیوالو جرمونو د سرته رسونې تور لګېدلی و. همدارنګه په هغه وخت کې چې د یوګاندا او د لارد مقاومت پاڅون کوونکې ډلې ترمنځ د سولې خبرې اترې روانې وې نوموړې محکمه د دې پاڅون کوونکو د نیولو په هڅه کې وه. او همدارنګه په داسې حال کې چې د ارفور د سیمې په اړه سختې څېړنې روانې وې ، دا محکمه په کنګو کې له سختو امنیتي او تدارکاتي ستونزو سره لاس او ګریوان وه.

په وروستیو میاشتوکې د انتقالي عدالت د پروسې په بهیرکې یو لړ پېښې رامنځ ته شوې چې په دې هیوادونو کې به د انتقالي عدالت راتلونکې له ستونزو سره مخامخ کړي. یانې د نوموړې محکمې د فعالیت په لومړیو ورځو کې، په داسې حال کې چې د کنګو د جمهوریت د ملیشو لاربنود توماس لوبنګا (Thomas Lubanga) محاکمه کیږی، نیږدې وه چې د ملیشو د لاربنود قضایي تعقیب کوونکې د ملګروملتونو موافقت واخلي ترڅو تورن کس ته پټ معلومات ورکړي او په دې توګه لویه تیروتنه وکړي. همدارنګه په همدې وخت کې ، د جنګي جنایتکارانو قضایي تعقیب کوونکې تر فشار لاندې و ترڅو د سوډان ولسمشر عمرالبشیر چې په نسل وژنه باندې تورن و، ونیسي.

## د لاهه نړیوالې جزایي محکمې ستونزې

د لاهه نړیوالې جزایي محکمې د خپل کار په بهیر کې ډېرې ستونزې درلودې. د نوموړې محکمې د پراخو ستونزو له ډلې څخه کولای شو د سمې اطلاع رسونې نشتوالي ته اشاره وکړو. د بېلګې په توګه د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز د وروستی څېړنې سره سم د کنګو د ولسواک جمهوریت په ختیځه سیمه کې د څېړل شویو خلکو له ډلې څخه یواځې ۲۷ په سلو کې خلکو له دې محکمې د هغه له فعالیتونو او پروګرامونو څخه خبر وو. دا محکمه تر اوسه په دې نه ده توانېدلې ترڅو خپل اعتبار د افریقا په لویه وچه کې تثبیت کړي. په دې توګه د دې محکمې د لارې پر سر ګڼ شمېر خنډونه پراته دي. له هغو ستونزو څخه چې د دې محکمې په مخ کې پرتې دي د دې محکمې د فعالیت جغرافیایي کړی دی. په دې مانا چې محکمه یواځې د افریقا د شخړو پر سر را چورلي او ډېر لږ شمېر افریقایان په ټیټو پستونو کې په کار ګماري، په داسې حال کې چې په پام کې لري ترڅو د نړی په کچه فعالیت وکړي.

سره له دې دې محکمې مثبتې اغیزې هم درلودې د بېلګې په توګه دې محکمې د کنیا او یوګاندا عدلي سیستمونه و هڅول ترڅوقضایي تعقیب په غاړه واخلي.

د جرمونو نړیوالې محکمې د خپلو فعالیتونو په لړ کې ډېر او ډول ډول ګامونه پورته کړي دي. د هغې له ډلې څخه د دې محکمې لومړنی ګام د دې موخې پر شاوخوا را چورلي ترڅو وکولای شي د عدالت د نړیوالو پخوانیو سازمانونو ځای ونیسي. د پخوانی یوګوسلاویا لپاره د جرمونو نړیوال دیوان د انتقالي عدالت په اړه دخپلو فعالیتونو په لړ کې د صربانو پخوانی رهبر رادوان کارادزیچ (Radovan Karadzic) ونیو چې دا نیونه یو لوی بریالیتوب ګڼل کیږي.

له بلې خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دا محکمه تر خواکمن فشار لاندې راوستې او اړیستې یې ده ترڅو خپل کارونه د ۲۰۱۱ کال تر پایه پورې پای ته ورسوي. همدارنګه د رواندا لپاره د جرمونو نړیواله محکمه چې مرکز یې په تانزانیا کې پروت دی د امنیت د شورا له مخې له ورته فشار سره مخامخ وه. او له دې محکمې څخه هم غوښتل شوي دي ترڅو خپلې دوسیې بېرته رواندا ته وګرځوي. په خواشینی سره د دې محکمو په تړلو کې هرډول بیړه د مجرمینو د قضایي تعقیب غوره بهیر په ټپه دروي او د انتقالي عدالت په وړاندې مسئولیت منونه او ځواب ورکول له خطر سره مخامخ کوي.

ګډې محکمې چې د نړیوالو متخصصینو او کورنیو قضایي لاروچارو یو ترکیب دی، یو د ودې او پراختیا په لور تلونکې بهیر دی. که څه هم دا ډول محاکمې مثبت امتیازونه لري خو کیدای شي د نړیوالو او سیمه ایزو شریکانو ترمنځ مخالفتونه او ستونزې را پیداشي چې د هغو د فعالیت په وړاندې خنډ واقع شي. لکه څرنګه چې په کامبوج کې د سرو خمرو (Khmer Rouge) د لوړرتبه رهبرانو په اړه په ځانګړې محکمه کې دا خبره پېښه شوه.

ګډې محکمې د یوشمېر ستونزو درلودونکې دي. چې د هغې له ډلې څخه کېدای شي د قانوني موادو او د قضایي تعقیب اړوندو قوانینو یا مالي او اداري مسایلو په اړه اختلاف رامنځ ته شي. همدارنګه احتمال لري نړیوال متخصصین د دې پر ځای چې د مرستې او کارپوهنې په توګه وکارول شي ، د ملي قضایي سیستم د ځای نیونې خطر ترې متصور شي .

سره له دې، نړیواله محکمه د نړیوالو او سیمه ایزو محاکمو د ګډون د تمرین په توګه زیاتو هڅوونو ته اړتیالري.

د لبنان ځانګړې محکمه، د وروستی مختلطې محکمې په توګه په پام کې

پاتې د پاڼې شاته

لري ترڅو د هغو کسانو دوسیې چې په ترهګرۍ او وژنو باندې تورن دي ، په هغه توګه چې د لبنان په قوانینو کې تعریف شوي دي، و څېړي. دا ډول کړنه د نړیوال عدالت مسئله سیاسي کوي. سره له دې هم دا محکمه کېدای شي د لبنان په د ټولنې د حالت په ښه والي کې خپل رول ولوبوي.

## د انتقالي عدالت راتلونکې

نړیوالې محکمې د عدالت د پراخېدو رول د نړیوال عدالت په غیاب کې تر سره کوي. په دې مانا هغه وخت چې انتقالي عدالت له ستونزو سره لاس او ګریوان دی ، مخ پر وده نړیوالې محکمې او همدارنګه مخ په ډېریدونکي هغه هیوادونه چې د روم بنسټ لیک ( ICC) یې لاسلیك کړی دی، د معافیت د له منځه وړلو په اړه به مثبت او هراړخیز رول ولوبوي.

د ودې دا بهیرونه یانې د نړیوالو محکمو وده او د روم بنسټ لیک ته مخ په ډېرېدونکي ژمن هیوادونه به د نړیوال او ملي قلمرو ترمنځ پیچلتیا رامنځ ته کړي.

نور بریالیتوبو نه چې کولای شو د نړیوالو محاکمو لپاره یې نوم واخلو، د بشري حقونو لپاره بین الامریکایي محکمه ده. دا محکمه توانېدلې ده چې په امریکا او د کارائیب په حوزه کې د قربانیانو د حق د یوې برخې په توګه د زیان د جبران تر پولې د معافیت د کلتور د له منځه وړلو په اړه او همدارنګه د تورنو کسانو د قضایي تحقیق او تعقیب د ظرفیتونو پراختیا او پرمختیا لپاره پیاوړی رول ولوبوي. او همدا څیز د دې لامل ګرځېدلی دی ترڅو ملي قضایي دستګاه هم وهڅول شي. په همدې وخت کې چې د محاکمو له کړنو څخه خبرې کوو، د ارجنټاین، چیلي، پیرو او کلمبیا په هیوادونو کې د پخوانیو ډله ایزو جنایتونو د قضایي تعقیب په اړه کار او کړنې روانې دي. دم ګړۍ له ځانګړو او د پام وړ مسائلو څخه یو هم په یوه کورنۍ محکمه کې د پیرو د پخواني ولس مشر البرتو فوجیموری (Alberto Fujimori) محاکمه ده . دا په داسې حال کې ده چې محکمه له دې امله زیات زور او فشار په غاړه لري. خو بیاهم دا محکمه په پیرو هیواد کط د قانون د واکمنۍ د ټینګښت لپاره یو دپام وړ عمل ګڼل کیږي. دا محاکمات ددې لامل ګرځېدلي دي چې د عالت په تامین سره تل پاتې سوله پیاوړې کړل شي.

له دې ډول سزایي ګام پورته کولو او د ځواب ویلو د کلتور له رامنځ ته کولو څخه په کلمبیا کې کاري چارچوکاټونه او ګام پورته کول روان دي او هڅه کیږچې د دې سزایي اقداماتو په بهیر کې د دې هیواد نیمه نظامي ډلې د ۲۰۰۵ کال د عدالت او سولې ترقانون لاندې له نظامي کړووړو څخه بهر کړي. د عدالت د تامین یوه بله لاره چې په دې هیواد کې روانه ده هغو نیمه نظامیانو ته د امتیاز ورکول دي چې له نظامي کړووړو او نظامي حالت څخه لاس اخلی. د امتیاز ورکولو بهیر باور لري چې دا عمل به د دې لامل وګرځي چې نوموړي نیمه نظامیان به پخوانۍ جنایي کړنې را برسېره کړي. التة له هغه ځایه چې د قربانیانو حق له حق العبدي حقوقو څخه دی ، نو ځکه هیڅوك دا حق نلري چې د قربانیانو لخوا چاته ښنه وکړي، له همدې امله، د امتیاز ورکولو په پروسه کې د قربانیانو حق محفوظ دی او د خسارې ورکولو او د خواخوږۍ ته اړتیا لري .

خو دا دې یادونې وړده چې دا ګامونه ، د پرمختګ ګامونه دي چې له ستونزو سره لاس او ګریوان دي. هغه ګامونه چې د معافیت فرمول یې د حقیقت په وړاندې ځای په ځای کړی دی. البته د لاحه له نړیوالې محکمې څخه دمخه دا شونتیا شتون درلود چې معافیت خپل ځای ونیسي. د دې محکمو له قضایي کړنو سربېره یو بل د پام وړ ټکی دادی چې د نړیوال انتقالي عدالت ارزښت په دې کې دی چې نړیوال عدالت وکولای شي د مسئولیت منلولپاره ملي هیڅې پیاوړې کړي.

---

**د انتقالي عدالت نړیوال مرکز (ICTJ) :** د انتقالي عدالت نړیوال مرکز داسې یو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خوندیتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هیوادونو سره چې غواړي د تل پاتې سولې او په تیرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعالیت وکړي، مرسته کوي. د دې مرکز د فعالیت سیمه هغه ټولنې دي چې له ځېونکو حکومتونو او یا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او یا په هغو هیوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سیستماتیک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګریوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

---

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه یو افغاني مدني بنسټ دی چې لرلید یې یوې ولسواکې، سوله ایزې، متواضع او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي یې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ ماموریت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پایله یې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او یو د بل د منلو د فرهنګ پیاوړتیا او بشري حقونو ته درناوی وي. ولسواکۍ، عدالت، بشري حقونو، په هیواد کې انډولیزې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا ، بې پربوالي، خپلواکۍ او تخصص ته ټینګه ژمنتیا د دې سازمان د کړو وړو د لارښود په توګه له چورلیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org